مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۶/۰۹

# سیـوری



سیوری مې، زه یو سره ورته، خو نن یو ناڅاپه

رانه پـه منده شو، په چیغو سر شو

زه کرار ناست یمه، خو سیوری مې روان دی ګرځي

سیوری مې وینم چې خبرې کوي ژاړي راته

د وړو تږو د دردونو کیسې بیا، بیا وایي

زه یې را بولم راشي کیني کرار

خو دی سرسام دی او ارام نه لري

کله تمبه شي په لاسونو باندې سر ووهي

نرۍ چوپتیا کې دوبه زه هم غلی

سیوری روان دی ګرځي چیغې وهي

او غواړي وغږېږي حال ووایي

زما د ککرۍ خونه وسپړي عالم خبر کا

د زړه رازونه مې راوباسي همدم خبر کا

۲۰۲۰/۰۴/۰۹

هیدرسلیف

ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ